## <u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

## په رفح کې د کډوالو پر کمپونو له وحشیانه بمباریو وروسته درته روښانه نه شوه چې امت او پوځونه یې باید حکام راوپرځوي او راشده خلافت بیا تاسیس کړي؟

### (ژباړه)

د ۲۰۲۴م کال، د مې د میاشتې په ۲٦مه، یهودي دولت په رفح کې د کډوالو یو کمپ په نښه کړ او د ښځو او ماشومانو جسدونه یې پر مزایلو ټوټې ټوټې کړل. د ماشومانو سرونه یې د دوی له کوچنیو بدنونو څخه جلا کړل او لسګونه نور پکې وسوځېدل. دا پېښه وروسته له هغه وشوه چې یهودو په خپله د رفح خلک له بمباریو څخه د خلاصون په موخه د کډوالو خیمو ته ولیږل. دا ټولوژنه وروسته له هغې رامنځ ته شوه چې د عدالت نړیوالې محکمې (ICJ) اسراییلو ته امر وکړ چې ژر تر ژره په رفح کې خپل نظامي عملیات ودروي. له دغه وحشتناک برید څخه ورځې تېرې شوې، خو د پاکستان حکام په هماغه کمزوري دریځ راضي دي، چې د مسلمانانو د هر دښمن پر وړاندې یې خپل کړی دی. د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر د مې په ۲۷مه وویل: «پاکستان د غزې ترانګې په رفح ښار کې د "اسراییلو" بمبارۍ او د کډوالو پر یوه کمپ برید چې په پایله کې یې ګڼ شمیر مرګ ژوبله اوښتې ده، په سختو ټکو غندي». د مسلمانانو د حکامو په نظر د مسجد الاقصی حرمت او د مسلمانانو وینه هیڅ ارزښت نه لري. په غزه کې د دغه وحشت له پیل راهیسې تر اوو زیاتې میاشتې تېرې شوې، خو دغو حکامو، چې د امت ملیونونه لیواله او پیاوړي پوځ یې تر لاس لاندې دی، هېڅ اقدام نه دی کړی.

**اې د پاکستان مسلمانانو او د هغوی وسله والو ځواکونو!** د پاکستان سیاسي او پوځي رهبري د امریکا -چې د امت د خاورو په زړه، یهودي دولت کې پوځي اډه لري- مرسته کوي او اسانتیاوې ورته برابروي. د مسلمانانو حکام زموږ د دښمنانو د کمپ یوه برخه ده. له اوو میاشتو خیانت وروسته نور د خبرو لپاره ځای نشته؛ نو څوک د دغې سیاسي او نظامي رهبرۍ پیروۍ ته دوام ورکوي چې له هغه چا سره ملګرتیا کوي چې له الله سبحانه وتعالی، رسول الله صلی الله علیه وسلم او مومنانو سره جنګیږي؟ څوک به الله سبحانه وتعالی، رسول الله صلی الله علیه وسلم او مومنانو ته د خپلې وفادارۍ له امله توبه وباسي او له ګناه څخه به ځان خلاص کړي؟ د دغو حکامو اطاعت د قیامت په ورځ له دوی سره راپاڅېدل او د هغوی په سخت عذاب کې د ګډون بلنه ده. دا ډول اطاعت به د د ستر زیان او پښېمانۍ سبب شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ» یعنی «د الله عز و جل په نافرمانۍ کې، د مخلوق اطاعت نشته.» [بخاري]

**اې د پاکستان د وسله والو ځواکونو مسلمانانو!** د صلاح الدين زامن بايد پوه شي، چې د دوی لپاره د پرېکړې وخت رارسېدلی دی. غفلت يا اقدام نه کول يوازې د يهودانو او د هغوی د مرسته کوونکو وخت غځوي، اوس د عمل وخت دی؛ زموږ مظلومې خويندې، ورونه، ماشومان او لويان د يهودانو پر بمونو، توغنديو او ګوليو شهيدانيږي، خو دوی پر دين ټينګ ولاړ دي، ستاسو د حرکت په تمه دي، مسجد الاقصی مو په تمه دی او غزه پر تاسو غږ کوي. په رفح کې د مظلومانو غږ الله سبحانه وتعالی ته پورته شوی او د هغه سبحانه و تعالی ځواب ته انتظار باسي. الله سبحانه وتعالی د غزې ملاتړ پر تاسو فرض کړی دی، هغه سبحانه وتعالی فرمايي:

**«وَاِنِ اسۡتَنۡصَرُوۡكُمۡ فِى الدِّيۡنِ فَعَلَيۡكُمُ النَّصۡرُ»** [انفال: ۷۲]

**ژباړه:** *«کله چې څوک د دين لپاره له تاسو نصرت وغواړي، نو پر تاسو فرض ده چې دوی ته نصرت ورکړئ.»*

د خپل ګران ورور عبدالله رمضان مثال ته پام وکړئ، هغه مصري سرتيري چې د ۲۰۲۴م کال د مې په ۲۷مه، په رفح کې له يهودانو سره په جګړه کې شهيد شو. هغه تر دې وړاندې د ۲۰۲۴م کال، د فبرورۍ په ۷مه، پوسټ کړی و: "زړونه مو غمجن دي. له سترګو مو اوښکې څاڅي. اې غزې، زه پر تا خپه يم، ځکه چې درد مو له نږدې ګورم. په داسې حال کې چې نړۍ کڼه، ګونګه او ړنده ده، زړورتيا پکې نه ليدل کېږي. اقدام نه کول د کمزورۍ اوج دی.» نو ايا په تاسو کې داسې د عقل او فکر خاوند نشته چې د فتحې او شهادت په لټه کې راپورته شي!؟

**اې د پاکستان د وسله والو ځواکونو مسلمانانو!** د مسلمانانو حکامو د امريکا د نړيوال نظم، صليبيانو او يهودو د ظلم پر وړاندې د مسلمانانو پوځونه بندي کړي دي. يهود د کمرو په مخ کې پر مسلمانانو توغنديز بريدونه کوي او د بې پيلوټه الوتکو له لارې يې د مجاهدينو د شهادت تصويرونه خپاره کړي دي، مسلمانان يې له لوږې سره مخ کړي او د ماشومانو جسدونه يې په ژوندۍ بڼه خپاره کړي دي. يهودو پر پاک لمنو مسلمانو ښځو جنسي تيري کړي دي؛ د مسلمانانو لاسونه او پښې يې تړلي او په ډزو يې وژلي دي، ځينې يې ژوندي ښخ کړي او ځينې يې تر ټانګونو لاندې کړي دي. د مسلمانانو د حکامو د ډارنوالي او بې جراتۍ له لاسه يهود ان د خپلو جنايتونو د پټولو اړتيا نه ويني. يهود د مسلمانانو د حکامو د خيانت، ډانوالي او بې جراتۍ په سبب د مسلمانانو پوځونه هيڅ نه بولي. نو دا منافق او فاسد حکام لرې کړئ، چې د تر ټولو ذليل قوم يعنې يهودو پر وړاندې يې ټيټ کړي يئ. حزب التحرير پر تاسو غږ کوي د نبوت پر منهج د خلافت د بيا تاسيس لپاره خپل نصرت ورکړئ. دا هغه خلافت دی چې د يهودي دولت جرړې به وباسي او د امريکا پر نړيوال نظم، چې فاسدوالی او بې عدالتي يې په ټوله نړۍ کې ښکاره ده، به وروستی وار وي. **نو اې د پاکستان وسله والو!** همدا اوس اقدام وکړئ چې الله سبحانه وتعالی تاسو ته د هغو لښکرو د قوماندې ستر وياړ در په برخه کړي، چې د فلسطين سپېڅلې خاوره او مسجد الاقصی ازادوي.

**د حزب التحرير- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵هـ.ق کال، د ذوالقعدې ۲۱مه**

**۲۰۲۴م کال، د مې ۲۹مه**

**د صدور ګڼه: ۴٦/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: اسرار تکل**